مصطفی پسرلی

۲۰۲۰/۰۸/۳۱

# غزل

مه کړه تلوار لږ حوصله پکار ده
بدلون ته لویه سلسله پکار ده

توپیر د مړي او پښتون نکیږي
ژونده! له تا نو څه ګیله پکار ده

د ګور کفن کار مجبوري ده اشنا
خو له دې جنګه فاصله پکار ده

شور یې ویده، ثوره یې زنګ وهلې
ژوند ته جذبه او ولوله پکار ده

وینه دې مه خرڅوه، تویه یې کړه
که دې په سر هسکه شمله پکار ده

ای پسرلیه خپلواکي که غواړې
بیا یوه بله سِره شعله پکار ده

مصطفی پسرلی
30/08/2020



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ